**د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

د تدارکاتو قانون د دريڅلوېښتمې مادې د دويمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک د نورستان نمایندګۍ د کارکوونکو د ودانۍ جوړولو د تشخیصیه شمیره DAB/1403/NCB/W32 د الهام سبحان انجنیری او ودانیز شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 91623 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت يې د خیرخانه دویمه برخه ګولايي جمهوریت، کابل مرکز کې دی د تړون ټولیزه بیه (3,658,727.6) درې میلیونه شپږ سوه اته پنځوس زره اوه سوه او اوه ويشت افغانۍ او شپږ پوله ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په پښتونستان واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.